# خوشحال خان خټک او تصوف

خوشحال خان په یوه شعر کښي خپل نسب داسي بیان کړئ دی.

- زه خوشحال د شهبار خان یم
- شهباز خان د یحیی خان و
- یحیی خان د اکوړی و
- هم په توره د اکبر بادشا په دور

چي تورزن یم کان په کان
چي بل نه وو هسي ځوان
چي په توره شو سلطان
شو د خپل اولس تور خان

# دخوشحال ختټک د ژوند په اړه لنډ معلومات

- خوشحال خان په ۱۶۱۳ م کال چې د (۱۰۲۲ه) کال سره سمون خوري، د جهانګیر بادشاه په دوره کښې په سرای اکوړه کې زیږیدلی دی. خوشحال ختټک د خپلي زیږیدني په باب په یو شعر کښي داسي ویلي دي:

- د هجرت زر دوه ویشت وو       چي زه راغلم په جهان

- د خوشحال خان پلار شهبار خان له یوسف زیوسره په یوه جګړه (۱۶۴۱) کښي سخت ټپي شوی او بیا یې د همدې ټپونو څخه د دې نړۍ څخه د تل لپاره سترګې پټې کړیدي.

# دخوشحال خټک د ژوند په اړه لنډ معلومات

- خوشحال پخپل یوه شعر کښي د پلار مړینه داسي یاد کړیده.
- سن د هجر زر پنځوس وو          چي شهید شو شهباز خان

- د شبهار خان د مرګ په وخت د ده څلور زامن وو، خوشحال خان، جمیل بیګ، میرباز خان او شمشیرخان. د دوی ټر مینځ تر ټول مشر (۲۸) کلن خوشحال خان په مشری وټاکل شو.

- له وخت تیریدو سره، اورنګ زیب په ۱۶۵۸ کښي د سیاسي قدرت د نیولو په خاطر خپل پلار شاجهان بندي کړ، او خپل ورور مراد بخش یې ووژلی، او پخپله په تخت کښېنستلی.

# د خوشحال خان او اورنګ زیب په مینځ کښي اختلاف

- د خوشحال خان او اورنګ زیب په مینځ کښي اختلاف را مینځته کیږي، او په ۱۰۷۴ هجري کښي خوشحال خان د اورنګ زیب لخوا نیول کیږي او په ځنځیرونو بند ډیلي ته لیږل کیږي. خوشحال د رنتهبور په قلعه کښي بندي سي.

- کله چې دوه– نیم یا درې کاله وروسته خوشحال خان له ډیلي څخه را خلاص سي. نو د خپل ژوند هدف داسي په ګوته کوي:

پس د بنده دی دا عزم — د خوشحال د خاطر جزم
یا نیولی مخ مکې ته — یا مغلو سره رزم
یا یو کنج د غره نیولی — لمونځ روژه د لوستو بزم

# د خوشحال خان مړینه

بیا وائي:

اورنګ زیب باچا زړه ډک په لاهور راغی    ګوره کاندي به څوک وران څوکه به ودان که

- خوشحال خان خټک بل ځای وائي:

مرګه هومره مهلت راکړه په جهان کې    چې جمدر د مدعي په وینو رنګ کړم

د افغان په ننګ مي وتړله توره    ننګیالی د زمانې خوشحال خټک یم

- خوشحال خان خټک د ۷۸ کالو په عمر په ۱۶۹۱م (۱۱۰۰) کښې د دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې

# دخوشحال خان خټک ادبي زيار

- خوشحال خان وائي چي د ښکار مينې د علم له حصول څخه لرې کړم، د شعر په ژبه باندي د دې اظهار داسي کوي:

- طبيعت مې عطائي نه د تحصيل دی　　　　که خبريم د املا په استعمال

- يو ساعت به مې په درس شل مي په ښکاروو　　　　کله ښکار پريښوم په کسب د کمال

- د جهان تحصيل به کل واړه زما وو　　　　که اخته نه وې د ښکار په اشتغال

# دخوشحال خټک ادبي زيار

- د خوشحال خټک په وخت کښي معياري ادب د عربي او پارسي وو، لکه چي په يوه شعر کښي داسي اشاره ورته کوي:

که تازی ژبه هر ګوره ښه ده     فارسي هم ډيره په خوند خوږه ده
چاپېي پلو د جمال وانه خست     پښتو لا هسې بکره پرته ده

- خو کله چي خوشحال خان بېلا بېل مضامين و پښتو ژبه ته راوړل، نوېي داسي دعوه وکړه:

که د نظم که د نثر که د خط دی     په پښتو ژبه مې حق دی بې حسابه
نه پخوا پکښې کتاب وو نه يې خط وو     دا دی ما پکښې تصنيف کړل څو کتابه

# خوشحال او تصوف

- حمزه بابا په خپله یوه مقاله (د خوشحال خان د فلسفي او تصوفي اشعارو خوا-۱۵۶ ۱۴۰ ننګیالی پښتون- پښتو ټولنه ۱۳۴۵ مهتمم محمد اکبر (معتمد)) لیکي: "...خوشحال خان خټک یو نابغه او آفاقي انسان وو، او د ژوند په هر اړخ ئې له خپله قوله او فعله رڼا غورولی ده. خو د دې هر څه سره سره هغه یو د منور او روښانه زړه او ذهن صوفي هم وو، او د حضرت شیخ رحمکار عرف کاکا صاحب مرید و، لکه چې وائی:

طریقت کښی مقلد د شیخ رحمکار یم

- مقلد: پیروي کوونکی، مرید
- او په یوه ځای کښې له خپل پیر شیخ رحمکار څخه داسي مرسته غواړي:
- د خوشحال تکیه په خدای ده　　　بیا په تا ده رحمکاره

- يو فلسفي د خپل تفكر په رڼا كښې د كاينات د راز او لټون په اړه فكر كوي، (او يو صوفي هم په بنيادي ډول د كاينات په اساس او غايت (مقصد) كښې فكر ځغلوي، او وائي چه اللهم ارنا الاشياه كماهي ، او يو، فلسفي هم د شيانو د حقايقو نه پرده پورته كول د ژوند غايت ګڼي، او هم په دې كښې فكر كوي، خو څرنګه چه وويل شول د هغه فكر د مادې محسوساتو نه د باندې نه شي وتى او د طبيعت نه ماورا د هيڅ څيز وجود چيرته چه د عقل د الوت انتها راشي، دهغه ځاى نه د انساني روح د پرواز ابتداوشي او د دې مقام نه وړاندې د عقل حيثيت د شاګرد شي، او كه هغه د روح په مخكښې د شاګردۍ زنګون ټيټ كړي، نو كوم شيان چه د هغه د حس د ادراک نه، لري و هغه محسوس كړي، ځكه چه د مشاهده كولو نه پس د عقل څخه د انكار مجال نه وي.
- د ماوراى طبيعات يا مابعد الطبيعات د مشاهدې د پاره مجاهدې ته ضرورت دى، لكه خوشحال خان خټک وائى:
- هميشه ژوندون كه غواړې درته وايم          هميشه كوه د نفس سره جهاد

- حمزه بابا ليکي : د مجاهدې سره عقل هم متفق وي– خو انساني نفس چه اسان خوښی او ارام طلب دی د دې غاړه غړوي . خو انسان ته لوی ځښتن د دې ذپاره يو بل جوهر ورکړی دی، چه عشق ورته وائی– عشق او عقل دواړه د انسانيت خادمان دی. خو د مجاهدې په ډګر کښې عشق دا غواړي چه عقل د هغه تابع وي، ځکه چه عقل د مجاهدې په لار کښی خنډان ، کړپې او د حوادثو بوګنوونکی سيلا بونه ويني، نو نفس ته ترې د ځان ژغورلو ښوونه کوي او دغه د عقل کار دی او په دې موقع که عشق نه وي نو نفس د سالک د همت لمن کلکه ونيسی، او وړاندي تګ ته يې نه پريږدي. خو د عشق سترګي هغه څه ويني کوم چه د عقل د نظر نه ډيرلري او پټ وي، خو په دې شخړه کښې عقل ارومرو ماتی مومي، لکه خوشحال بابا چه وائي:
- عقل او عشق چه سره دواړه په دعوی شي بل مجال د عقل نشته بې ګريزه
- بل ځای وائی:
- راشه عشقه راشه چه وربوزيې راته مات کړې بيا نارسا عقل په تدبير راغلی دی

- په تصوف کښي د مرشد یا پیر ضرورت
- په تصوف کښی د مجاهدې د شروع کولونه وړاندې یو استاد ته ضرورت وي چه د تصوف په اصطلاح کښی ورته شیخ مرشد او پیر وائی چه بغیر د دی ه په دې لار تګ ډېر ګران او د خطر نه ډک دی. او بیا نو د شیخ د نګرانی او هدایت د لاندې د سلوک په لار د یون پیل وشي.
- د تصوف ډېر تعریفونه شوي دي چه چا ورته د فاضله اخلاقو او چا ورته د رباني عشق حصول ویلی دي، څوک وائی چه د لوی خدای سره معنا معامله ساتل تصول دی او حضرت شخ عبدالقادر جیلانی وائی چه د خدای او بنده تر منځه چه کوم حجابونه دی د هغو لری کول تصوف دی.
- حمزه بابا لیکي: د خدای دا منشا ده چي انسان په رښتني معنو انسان شي او هم دغه وجه ده چي اسلام رهبانیت منع کړی دی او د عالم انسانیت د احترام امريې کړی دی. خوشحال خان د ګوښه ګیری مذمت داهسي کوي:
- کښنې په خلوت کښی شیخه سود یي راته وایه
- ولی په خپل ځان داهسی ارت جهان تنګ کړی

- په تصوف کښې د فنا کېدو پړاونه
- په تصوف کښې وړومبۍ درجه د فنا فی الشیخ ده او چه هر کله دافنا حاصله شي نو بیا سالک د فنا فی الرسول الله مرحلې ته تیار شي او د دی مرحلي نه بیا د فنا فی الله او په پای کښې د بقا بالله مرته حاصلوي. د فنا ابتدا د دې نه کیږي چه سالک په ژوند ومری ، لکه رحمان بابا وائي:
  - په ژوند ومرمه چه د مرګ له غمه خلاص شی
    اسان کار دې کړ په ځان باندی ګران ولی
- دا رنګه د هر فطري خواهش څخه تیریدل او په هغه تسلط کول ضروري دی ځکه تر څو انسان په فطرت غالب نه شي هغه د خپل وجود د مسخر (فتح، نیولو، قابو کولو) کولو قابل نه وي. او د کائناتو تسخیر خو د انسان د پاره ډیره ګرانه خبره ده او و وائي چه:
- بیا هاله له یګانګۍ له حاله لاف کړه        که د غیر و اندیښني له زړه خارج کړی
- یګانګۍ: Uniqueness, state of being unique, singularity, individuality
- لافه / لا په: د ځان ستاینه، صفت

- خوشحال خان خټک بل د خاکسارۍ ذکر داسي، چي د انسان پټ صلاحیتونه هله راښکاره کېدای شي چه دی د داني غوندي ځان خاوري کړي: لکه په یوه شعر کښي داسي اشاره ورته کوي:
- تري به سل رنګه ګلونه شګفته شي هر سړی چه خاکساري واخلی ځان خاک که
بل ځای وائي:
- خاص بنده د خدای هغه ګڼه خوشحال چه د ځان په معرفت يې سرفراز که
- عارفان د سر په سترګو ګوتي کښېږدي د خپل زړه په سترګو ګوري تماشا کا
- د تصوف په پړاونو کښي یوه صوفي / سالک ته بیلا بیل پړاونه راځي او چي کله سالک د حق د مشاهده محسوس کړي نو په وخت کښي پر ده باندي په کیفیت راشي، لکه خوشحال خټک چي اشاره ورته کړې ده:
- لکه سترګه تصویري ځنبل يې نه وي چه مي سترګي بنه جمال و ته کاته کا

- یو سالک د فناکېدو د پاره بېلا بیل ریاضتونه کوي او د فنا کېدو له پړاو څخه و بل ته لار جوړوي. د تصوف په علومو کښې فنا د بقا پوړۍ ده او په دې حقله د نورو صوفیانو غوندي خوشحال خان خټک په یوه شعر کښې داسي وائي:
- دا په دا چه خود بیني ورڅخه نشته          د جهان ننداره ځکه دوه لیمه کا
- د خوشحال خان په شاعري کښې د وجودي او شهودي توحید افکار لیدل کیږي، لکه چي وائي:
- په هر څه کښې ننداره د هغه مخ کړم          چه له ډېرې پیدایۍ نا پدید شو
- په وحدت الشهود کښې کاینات د حق تعالی د صفاتو عکس دی خو د وجودي توحید منونکي صفات په خپله سورې ګڼي، نو د سوري نه د سوري پیدا کیدل ناممکن ګڼي، خوشحال خټک وائي:
- یو وهم دی که څه دی چه په خلقو باندی پیښ شو          دنیا دنیا هیڅ نشته که نمود که نانموده          :          نمود: ښکاره کیدنه، ښودنه
- بیا د صفاتو د عینیت په حقله خوشحال وائي:   مخ د یار د خط و خاله مستغنی دی          د غني وي هر اسباب له خپله کوره          مستغنی: ډک،
- بل ځای وائي:          که مسجد ګوری که دیر          واړه یو دی نشته غیر
- یا دا چي:
- یار مې هسي رنګه ځای وینو په سترګو          چه و هر لوري ته ګورم واړه دی دی

- خوشحال خټک او وحدت الشهود:
- حمزه بابا د وجودي او شهودي توحيد په بحث کښي ليکي:
- وجوديان وائي چي د هر ځيز (شي) وجود د حق وجود دی او شهودي صوفيه وائي چي نه د هر ځيز په وجود کښي د يو خدای مشاهده کيږي – نه دا چي د هر شي وجود د خدای وجود دی . خو شهود نظريي ته په غور وکتل شي نو د وجودي اوشهودي توحيد اختلاف صرف لفظي جګړه پاتي شي، ځکه چه يو وجودي صوفي دا مشاهده کوي چي د هر ځيز وجود د دخدای وجود دی او ي، شهودي صوفي هم په هر ځيز کښي د هغه يو ذات مشاهده کوي .
- په شهودي توحيد کښي د معرفت څخه پس سالک ته معلومه شي چي حق د هغه د وجود څخه بهر نه وو– و في انفسکم افلاتبصرون. خوشحال خان و دي پړاو ته داسي اشاره کوي:

يار دماڅخه په کور دننه ناست و زه بې روحه ګرزيدم د ده په مرسته

- بيا وائي:

يار په هر لوري جلوه کا ورته ګوره که دې نه دي د ليدلو سترګي تتي